# چار ګل ته يوه کتنه

CHĀRGUL - A Review

زر محمد سنګر[1]

ډاکټر احمد علي عاجز[2]

**Abstract**

Pashto literature has a long list of its pioneers. Hamesh Khalil is one of those writers, researchers and poets of Pashto language who contributed to the various aspects of Pashto language and literature. One of his anthologies of short stories "Chārgul" has been analyzed in this article. All of the nine short stories of this book have been analyzed and discussed in this article. Various social aspects of these short stories have been viewed and described in this article.

**Keywords**: Hamesh Khalil; Pashto Literature; Chārgul; Pashto Fiction; Pashtūn Social issues; Criticism.

همېش خليل چې خپله نامه ئې همېش ګل ده د پېښور په برتاکال نومې کلي کښې دانځرګل کره په ۱۱ اپرېل ۱۹۳۰ء کښې پېدا شوے دے اوتردې دمه ئې دپښتوژبې او ادب خدمت ته ملاتړلې ده. ديودرځن کلاسېک شاعرانو ديوانونه بې سره د سريزو او مقدمومرتب کړي اوچاپ کړي دي . له دې پرته ئې نور هم ډېر تحقيق کړے دے او ډېر کتابونه بې چاپ شوي دي. ډېر ښۀ افسانه نګار هم دے او د چارګل پۀ نوم ئې کتاب پۀ ۱۹۷۳ء کښې چاپ شوے دے.

چار ګل دَ محترم همېش خليل دَ افسانو وړومبۍ او وروستۍ مجموعه ده. چې ښاغلي د خپل درې کلني قېد په دوران کښې ليکلې ده. دغه زمانه دَ کال ۱۰۲۱ء نه تر کال ۱۹۲۳ء پورې وه. دغه قېد ښاغلي په سنټرل جېل مچ، سنټرل جېل ډي آيي خان او سنټرل جېل هري پور کښې تېر کړے دے.

په دې مجموعه کښې ټولې ټالې نهه افسانې دي. په دې کښې اتۀ افسانې طبعزاد او يوه افسانه "اخري سبق" دَ فرانسيسۍ ژبې نه ترجمه کړے شوې ده.

چار ګل په وړومبي ځل په فروري ۱۹۷۳ء کښې چاپ شوے دے. او دَ دارالتصنيف پېښور نه خور شوے دے.

"دَ دوېم دور کوم سره چې زمونږ دَ ګران او محترم افسانه نګار تعلق دے. دَ پښتو قصه ايز

---

[1] لکچرر پښتو څانګه، اسلاميه کالج پوهنتون، پېښور

[2] اسسټنټ پروفېسر، پښتو څانګه، پېښور پوهنتون

ادب يو حوصله افزا باب پرانسته کوي او په دې کښې چارګل دَ افسانو يو اهم کردار دے.[1]

دَ پښتو افسانې امام راحت زاخېلي نه دَ افسانې سر انخلي. دَ پښتو افسانې وړومبنے دور چې عالمان او نقادان ورته دَ افسانې عبوري دور وائي. په دغه وړومبي دېرش کلني دور کښې هم پښتو افسانې ښې ښې کلکې کړې دي. او پر مختګ ئې کړے دے. او بيا وروستو دَ افسانې دوېم دور چې دې ته عالمانو "شعوري دور" نوم ورکړے دے. په دې کښې افسانه دَ عروج بام ته رسېدلې ده. او دغه دور دَ افسانې لوئې لوئې نامې پېدا کړې دي.

"دَ قلندر مومند نه پس دَ افسانې په مېدان کښې کۀ چا دې فن سره انصاف کړے دے نو هغه ګران همېش خليل دے."[2]

يو خوا کۀ ښاغلے اسير منګل صېب دَ همېش صېب په بابله دغه بره ذکر شوې رائې لري چې همېش صېب دَ پښتو افسانې حق ادا کړے دے. خو بل خوا مرحوم فضلِ حق شېدا صېب دَ چارګل په سريزه کښې ليکلي دي.

"دا وړې قيصې يا افسانې ډېرې وړې دي. شايد څنې نقادان به ورته افسانې ونۀ وائي"[3]

مرحوم فضلِ حق شېدا صېب خو ډېر ليکلے لوستلے باخبره شاعر اديب وو هغه دَ عالمي ادب نه هم خبر وو. او ظاهره خبره ده چې هغوئ به عالمي افسانه هم لوستي وي. خو دَ حېرانتيا خبره دا ده چې هغه دَ همېش صېب دَ افسانو په بابله داسې وائي چې "دا وړې قصې يا افسانې ډېرې وړې دي"

حالانکې دَ افسانې چې کومې فني غوښتنې دي. په هغې کښې دَ لنډې او اوږدې افسانې هډو چا خبره نۀ ده کړې. داسې افسانې هم شته چې په درېو څلورو کرښو کښې ليکلے شوي وي. او دَ عالمي معيار افسانې دي. او داسې هم شته چې ډېرې اوږدې افسانې دي. خو وحدت تاثر ئې چرته هم نۀ دے مات شوے. مطلب دا چې افسانه په لنډه يا اوږده، دَ افسانوي چوکاټ نه نۀ وځي. په افسانې باندې نقادان هغه وخت ګوته وچتوي کله چې دَ دې ژبه افسانوي نۀ وي. وحدت تاثر نۀ لري. پلاټ ئې کلک وودلے شوے نۀ وي. چرته په مېنځ کښې دَ افسانه نګار نه سسپنس مات شوے وي. يا ضمني پلاټونه لري. دَ همېش صېب په افسانو کښې به شايد چې څۀ لږې ډېرې فني کمزورۍ وي. خو دَ هيئت په لحاظ سره دا پوره او مکملې افسانې دي. ژبه ئې هم افسانوي ده. پلاټونه ئې هم کلک وودلے شوي دي. او هره افسانه يوه مضبوطه قيصه هم لري. ځکه نو مونږ دَ شېدا صېب دې خبرې سره په دې حواله اتفاق نه شو کولے. البته دَ ښاغلي سريزه نګار دا خبره سل په سل دَ منلو ده چې: "ليکن دَ همېش خليل باره کښې دا وېنا به مبالغه نۀ وي چې دَ هغه نظم او نثر دواړو کښې يو خاص خوند دے. يو نوے رنګ دے. ځان له جدا طرز بيان او منفرد سبک لري".[4]

لکه دَ مثال په توګه دَ "ډیوه مړه شوه" په دې څو ابتدائي جملو کښې لوستونکے هم د ژبې خوږه محسوسولے شي. هم دَ دنیا په سرمایه دارانه نظام باندې رسا ګوذار لیدلے شي او هم دَ غریبو او پرېوتو اولسونو دَ لوږې او تندې یو زړه چوَنکے عکس لکه چې وائي: "او څۀ وخت چې ګل سانګې ډکه غېږ شمځه اخور کښې واچوله. نو دَ ګوارې نه پاتې سره او برګه اچې غوا پرې داسې راپرېوتې، لکه دَ نړې زور اور چې دَ کمز ورو غوښې خوري".[5]

یعنې په لفظونو کښې بشپړه انځورګري هغه څوک کوَلے شي چې په ژبه او فن دَ واړو ئې لاس بروي.

البته لکه څنګه چې دَ همېش صېب طریقه ده. هغه دَ افسانې لیکلو په وخت کښې په فن او پېغام کښې داسې ورک شي. چې څۀ وخت دَ پاره ترېنه دا خبره چورلټه هېره شي. چې ګنې هغه افسانه لیکي ادب لطیف نه.

مرحوم ډاکټر محمد اعظم اعظم "پښتو افسانه" کښې دَ همېش صېب دَ افسانې په بابله لیکي:

> "سیاسي او نظریاتي شعور په توګه دَ چار ګل افسانې ماسټر عبدالکریم او میر مهدي شاه افسانو ته نزدې ښکارې. ولې دَ همېش دَ رنګین بیان، افسانوي ژبه، دَ ماحول بهترینه عکاسي، او څنې ځایونو کښې ښه کردار نګارې دَ ذکر کړے شوو افسانه نګارانو سره نشته. خو دَ دې باوجود دَ هغۀ افسانې دَ فن په معیار پوره نۀ خېژي."[6]

دَ الفاظو جادوګرې او مبالغه آمېزې کله کله دَ افسانې صحت ته نقصان ورسوي. او څنې الفاظ کۀ ډېر ښکلي هم وي. خو دَ افسانې نازک وجود ته نقصان ورسوي. ځکه چې دَ افسانې مثال لکه دَ پېغلې جینۍ دے. په مخ باندې بې ځایه خال نۀ زغمي. لکه چې "ډیوه مړه شوه" افسانه کښې افسانه نګار دَ حده زیات جذباتي شي . نو وائي:

> "سره سره وینه دَ کټ له سترګو څڅېده او سپینې سپینې اوښکې دَ مور او لور دَ تورو تورو سترګو بهېدې. لکه چې بوډا مزدور سره دَ نوره او مینې دَ دنیا دَ کروړونو انسانانو دَ بېکسۍ او ناداری اوښکې بیوي. دَ سانګې دَ اوښکو په آئینه کښې دَ هغې دَ پلار سرې سرې وینې لکه دَ غرونو په سر دَ سپینو سپینو واؤرو په خیال کښې دَ انقلاب تصور. لکه دَ هیرې په تصور کښې دَ مرجان خیال اوښکې بهېدې، وینې څڅېدې، اسوېلي خورېدل او تېرې ګورېدې. او دا ځکه چې دَ سانګې دي دَ کور ډیوه مړ شوې وه."[7]

خو دَ افسانې تقاضه دا ده چې دا ټوله خبره دې په دوه درې جملو کښې په جامع انداز کښې راټوله کړے شي.

> "چار ګل په افسانو کښې چې دَ کوم رنګین بیانۍ نه کار اخستے شوے

دے. هغه دَ ستائیلو وړ دے. ولې په ځنې ځایونو کښې داسې جملې او اصطلاحات په کار راوستے شوي دي چې هغه مصنوعي ښکاري او په ذهن بوج محسوسیږي. لکه چې "ډیوه مړه شوه" کښې دا جمله دَ ګل ځانګې وطن دَ انساني حقوقو په خزانه دَ یو څو ښایسته ښائسته ښامارانو دَ پاره جنت خو وو. ولې دَ ګل ځانګې غوندې بې شماره انسانانو دَ پاره دَ یو حسین دوزخ نه کم نۀ وۀ. دلته دَ حسین دوزخ اصطلاح څۀ نا اشنا غوندې لګي." 8

دَ چار ګل په افسانو کښې ښاغلے همېش صېب زمونږ مخې ته دَ ترقي پسند ادیب په صورت کښې راځي. نو دَ هغۀ دَ قلم نه به خامخا داسې الفاظ دَ بڅرو په شکل کښې را پرېوځي. ځکه چې دے خو ادب دَ ژوند ترجمان ګڼي. او دَ دې نه دَ سماجي او اقتصادي بدلون دَ وسیلې کار اخلي. طبقاتي لرے برے او په غاړه کښې دَ غلامۍ پړے او دَ دغه ظلمونو په نتیجه کښې پېدا شوې بې سواده لاچاري، بې وسي او بې عرضي هغه بنیادي نقطې دي چې دَ همېش خلیل افسانه ترېنه چاپېره چورلي. او دَ هر ساهو افسانه نګار په حېث هغه ژوند په یو داسې جانانه انقلاب اړول غواړي. چرته چې مینه وي . مساوات وي. انسان دوستي وي او انسان دَ خپلو اعلٰی قدرونو سره دَ اشرف المخلوقات په حېث ژوند کولے شي. خو کله کله هغه په خپلو افسانو بې ضرورته هم دَ استحصالي نظام او ټولګي ذکر پېل کړي. لکه دَ دې وطن دَ ظالمانه نظام ذکر، دَ انقلاب ذکر، دَ نړېوال کردارونو ذکر.

"لکه دَ غربت په شکست چې چراغان کېږي. لکه چې په مغروره ماڼو دَ کبرژن تخت او سرکش تاج دَ کامیابۍ بېرغ رپي. لکه دَ دنیا بازار چې دَ بې شمېره ګل ځانګو دَ اوښکو مرغلرې او دَ هغې غوندې دَ ډېرو پلرونو دَ وینو سرۀ سرۀ لعلونه ارزان شوي وي. .....

خو کۀ دا قسمه جذباتي جملې او روغ پېراګرافونه هم له دې افسانې ځنې وویستلے شي نو دَ افسانې په صحت به هېڅ اثر پرې نۀ ووځي"9

دَ "چار ګل" دوېمه افسانه "مور" ده. په دې افسانه کښې دَ یو غریب پلار دَ ځواني مرګ ځوئي "جان" ارماني ارماني مرګ افسانه کړے شوے دے. چا نه چې دَ پلار ډېرې طمعې وې. په دې کښې چې ابۍ دَ کوم سپین دَ یو ذکر کوي. نو دا هغه دیو دے چې دَ همېش صېب په ذهن کښې دیو افسانه نګار په حېث موجود دے. دَ ابۍ ګانو په قیصو کښې چې کوم دیو موجود وو نو هغه سپین دیو نۀ وو. بلکې هغۀ تورابان دیو وو. دَ افسانې نوم "مور" کېښودے شوے دې. خو دَ مور نه پکښې زیات ذکر دَ پلار دے. په مور افسانه

کښې دَ جان دَ مرګ نه پس دَ افسانې په بابله ښاغلے ډاکټر زبیر حسرت صیب لیکي:

"څۀ هم کۀ زما په خیال دلته افسانه خپل منطقي انجام ته رسېدلې وه. او دَ نورو خبرو ګنجائش پکښې نۀ پاتې کېږي. او دَ جان (دَ افسانې مرکزي کردار) دَ ژوند اوربشه ختمه شوې ده. خو افسانه نګار بیا هم په ډېر تکلیف دَ خپلې بې ځایه لفاظۍ په زور یوه نیمه صفحه نوره هم توره کړې ده. او خبره ئې دَ افسانې ټائټل "مور" له را رسولې ده. حالانکې دَ ځواني مرګ جان دَ غم په ټول داستان کښې دَ هغه دَ مور هېڅ کردار په نظر نۀ راځي."[10]

دَ هر نظریاتي لیکوال دا المیه وي چې هغه دَ افسانوي رښتیاؤ نه زیات دَ ژوند دَ رښتیاؤ او حقیقتونو خیال ساتي. خو کله کله په دغه جذباتي فضا کښې دے دَ ځنې معروضي حقیقتونو نه ډېر لرې لاړ شي. لکه دَ مثال په توګه په "مور" افسانه کښې افسانه نګار وائي:

" او کله کله به ئې چې دَ قیصۍ په مېنځ کښې دَ سپین دیو نامه واخسته نو مانه به دَ کوه قاف سپین دیو هېر شو. ما ته به زمونږ په وطن دَ استعمار سپین سپین دیوان را وړاندې شول. او زما دَ خیال بدري جماله به چې دَ دغو سپینو سپینو دېوانو نه را په مخه شوه. نو ټوله به ساه ساه وه او چې دَ دغو سپینو سپینو دېوانو احساس به په شا شو نو ما ته به دَ خپل کلي دېوان رامخکښې شول."[11]

خو دَ اخبره دې هم یاده وي چې دَ سکول دَ ماشوم ذهني معیار دومره اوچت نه وي چې هغه دې دَ یوې روایتي قیصۍ په رڼا کښې دَ عالمي استعمار او مقامي خانانو ظالمانه نظام ولیدے شي. دا افسانه په افسانوي لحاظ سره په دې وجه هم کمزورې ده. څۀ ته چې علت او معلول یا Cause and Effect وائي. هغه په ښۀ طریقه وړاندې کړے شوے نۀ دے. په دې حقله خدائے بخښلے اعظم صیب لیکي:

"دَ دې افسانو تنه بوده دَ خپل خواؤشا دَ خوږو ترخو حقیقتونو سره تړلې ده. او کردارونه ئې هم په خپل پښتني چاپېرچل کښې زېږېدلې کردارونه ښکاري. خو دَ مقصدیت او اوپره جذباتیت رنګ پرې ډېر خور او غلبه ښکاري. له دغې کبله په دې افسانو کښې په اکثرو کښې دَ تاثر اکائي دانه وانه شي. او کردارونه ئې باوجود دَ خپلې رښتینو بنیادونو دَ فني حقیقت بلندو ته په ختو کښې وښوئېږي. او دا المیه زمونږ دَ اکثرو مقصدي لیکونکو المیه ده. "[12]

لکه جان په نري رنځ اخته دے. علاج او پرهېز دواړه کوي. په ناروغه صورت مزدورۍ ته

هم مجبوره نهٔ دے. حالانکې دَ دې وطن ډېر "جانان" نهٔ دَ علاج وس لري. نهٔ دَ پرهېز او نهٔ په ناروغه صورت باندې دَ ارام. افسانه نګار دا کوَلے شو چې دې افسانه کښې منفي عناصر په فعال شکل کښې دَ مثبت کردار مخې ته ودرولے وے او دَ دواړو په مېنځ کښې ئې جنګي کېفيت رامخکښې کړے وے. افسانه دَ افسانه نګار نه اوږده شوې ده. خو خپل ځان ئې هغه شان سمبال کړے شوے نهٔ دے. چې دَ يوې ښې افسانې امتيازي شان دے. په افسانه کښې کهٔ دَ جان مور ژوندۍ وي نو دَ هغهٔ دَ بيمارۍ په دوران کښې دَ پلار سره دَ هغې درد هم په جمله نيمه کښې دَ اګاهو نه راوړاندې کوَل پکار وو. څنګه چې په ناروغه او نيازبين زوي باندې دَ پلار نه زيات دَ مور زړهٔ ورانېږي. او دې افسانه کښې مور لکه دَ ځنې فلمونو دَ مېلمنې اداکارې په حېث موجوده ده.

"چا ر ګل" دَ دې مجموعې درېمه او نمائنده افسانه ده. دَ افسانې مرکزي خيال دا دے چې يوه پېغلوټې کوچۍ دَ چارګل په ارمان شپې ورځې تېروي. خو کله چې ئې دَ پلار وَس بَر شي. او کالدارې په لاس ښار ته لاړ شي. نو دَ چار ګل په ځائے دَ قانون په محافظانو واوړي. څوک چې ئې لاس نيولے کورته راولي. او دغه شان دَ پېغلې درخو په ملالو سترګو کښې غړېدونکے دَ مودو مودو دَ چار ګل ارمان لکه دَ ازغو چوکه شي.

په افسانه کښې چارګل دَ يو داسې علامت صورت اختيار کړے دے چې دَ دې وطن دَ غريبۍ دَ کرښې نه دَ لاندې اوسېدونکو غريبو اولسونو دَ هرې پېغلې او هر زلمي په سترګو کښې دَ ارمان په صورت کښې غړېږي. او دَ هغوي بلها بلها ارمانونه په حسرتونو کښې بدلېږي.

ډېره ښکلې او مقصدي افسانه ده خو ځينې ځايونو کښې ورته بنده ګوته نيولے شي. لکه څهٔ وخت چې دَ ګل څانګې پلار دَ جاسوسۍ په الزام کښې ګرفتار کړے شي. او دغه خبر دَ اخبار په سرخۍ کښې ولګي. نو په دې بابله ډاکټر زبېر حسرت صېب ليکي:

> "ځکه په کابلۍ کښې کهٔ څهٔ هم اخبارونه خرڅېږي. ولې په پښنور کښې دَ نماښامي اخبارونه په دې الېکټرانک او جديد کمپيوټرايزډ دور کښې هم نهٔ راوځي. نو په هغه وخت (فروري ۱۹۷۳ء دَ "چار ګل" دَ چاپ مياشت او کال څهٔ هم کهٔ افسانه له دې تاريخه هم وړاندې د همېش صېب دَ خپلې خبرې مطابق ۱۹۲۱ء کښې ليکلے شوې ده) خو ئې بيخي څهٔ تصور هم نهٔ شي کېدے."[13]

دَ ځنې خلقو دا خيال دے چې ګنې دا افسانه دَ خدائے بخښلي قلندر مومند دَ "ګجرې" دَ اثر لاندې ليکلے شوې ده. ځکه په ګجرې کښې شېرينۍ دَ خپل پلار شېردل نه دَ ګجرو غوښتنه کوي. او په دې افسانه کښې ګل څانګه هم دَ پلار نه دَ "چارګل" مطالبه کوي. دَ دواړو درد او کرب په افسانو کښې يو شان محسوېږي. په ګجرو باندې دَ قلندر صېب

کتاب ګجرې او په چار ګل باندې د ښاغلي همېش صيب کتاب چار ګل دے.

" چار ګل افسانه د قلندر مومند د ګجرې افسانې دوېم شکل دے. فرق صرف دومره دے چې په ګجرې کښې يوه لور د خپل غريب پلار نه د ګجرو غوښتنه کوي. او هغه د ماشومې لور د ارمان پوره کولو نه مخکښې بندي خانې ته لاړ شي. ولې چارګل کښې هم يوه جينۍ خپل پلار نه چارګل غواړي. خو په اخر کښې سره د ډېرو ارمانونو جېل ته لاړ شي. ګجرې افسانه په کال ۱۹۵۸ء کښې او چار ګل په کال ۱۹۷۳ء کښې خوره شوې ده."[14]

بهر کېف هر څۀ چې دي خو زمونږ زيات تر ليکوال او افسانه نګاران د ترقي پسند تحريک نه متاثره شوي دي. او په دغه ضمن کښې ئې ليکل کړي دي. او بله دا چې په دغه دور کښې د "اولسي ادبي جرګې" د سپوري لاندې د دې کسانو تربيت شوے دے. نو خامخا به ئې د يو بل نه اثر اغستے وي.

خو ډاکټر شېرزمان طائزے ليکي:

"د دې قيصي کړۀ وړۀ يا پلاټ د قلندر مومند "ګجرې" نومې افسانې ته ورته دي. هلته د خان ازم او دلته د حکومت ړوند توب يو بېګناه ته عذاب جوړېږي. خو دا توارد ښېخي فطري دے. ځکه چې دا افسانې د هغې ماحول د اثر لاندې ليکلے شوې وې چې هغو ورځو کښې په بېن الاقوامي سطح د ادب روح ګنړلے شو"[15]

په فني توګه باندې دا افسانه ډېره دردناکه قيصه هم لري. د ضرورت تر مخه زړۀ پورې مکالمې پکښې هم شته. ژبه ئې هم ډېره زياته ښائسته او افسانوي ده.

دا يوه کرداري افسانه ده چې سسپنس پکښې هم شته او افسانوي ښکلا هم. خو لکه څنګه چې د افسانه نګار انداز دے. څنې ځايونو کښې د ښکلو ښکلو تشبيهاتو او لفظياتو په غرض تشريحي انداز اختيار کړے دے. د افسانې اخري برخه چې کم از کم په دوو صفحو مشتمله ده. په کوټلې افسانوي انداز کښې په يوه صفحه کښې رانغاړلې شوه. خو د دې باوجود هم دا يوه داسې اثرناکه افسانه ده چې هم افسانوي ښکلا لري. او هم ئې په موضوع کښې موضوعي توان شته. ځکه د معروضي حالاتو يو مکمل عکس دے.

" په هر حال د خپل کوټلي پلاټ، شاعرانه ژبې، بيانيه مکالماتي انداز، ماحول، د موضوع نوي والي، مقصد او وحدت تاثر له رويه "چارګل" هم د دغې مجموعې غوره افسانه ده. چې د لوستونکيو په ذهن خپل يو تاثر نقش کوي."[16]

"ننا میا" دا یوه کرداري افسانه ده چې مرکزي کردار ئې په جېل کښې بند یو سیاسي قېدي ننا میا دے. افسانه نګار هم صیغه واحد متکلم په شکل کښې په افسانه کښې موجود دے. ځکه چې هغه دَ هغهٔ دَ جېل ملګرے دے.

دا دَ ایوبیه امریت زمانه وه. چې دَ پاکستان دَ دواړو برخو پرېوتو اولسونو دَ یو پلېټ فارم نه دَ قائداعظم دَ خور محترمه فاطمه جناح په مشرۍ کښې دَ امریت خلاف دَ جمهوریت دَ پاره جدوجهد کوو. مصنف هم دَ دغه ناکرده ګناه په جرم کښې دَ جېل دَ تورو تمبو شاته تلے وو. خو لکه څنګه چې دَ هر ساهو لیکوال وظیفه ده. چې دے دَ ځان نه زیات دَ بل انسان په غم غمژن وي. ځکه خو وئیلے شي چې ښه افسانه په ابنارمل کردارلیکلے شي. او دَ دې افسانې مرکزي کردار هم څهٔ قدرت ابنارمل کړے دے. او څهٔ په دنیا کښې دَ قدرت خاوندانو په ډېر زور او ظلم دَ انسانیت دَ دائرې نه ایستے دے. ښاغلے اسیر منګل صیب لیکي:

> "ننا میا دَ یو سیاسي قېدي قېصې ده. چې دَ جېل دَ رهایۍ نه پس ئې ځائې "پاګل خانه" شي. دغه افسانه زمونږ دَ جېلونو هغه حالاتو نه پرده پورته کوي چې چرته دَ انساني حقوقو دومره خلاف ورزي کؤلے شي چې یو سړے کهٔ سزا پوره هم کړي ولې سزا ئې بیا هم نهٔ ختمېږي."[17]

مصنف په بیانیه انداز کښې په ډېر ښکلي او غوره انداز دَ هغهٔ دَ شخصیت او کردار عکس وړاندې کړے دے لکه څنګه چې دَ همېش صیب طریقه ده. دَ خپل کردار په لفظونو کښې دَ بیانولو او دَ هغه دَ هرې ادا دَ انځور ګرۍ دَ پاره ډېر مناسب تشبیهات او توري پکار راوستي دي. دَ ننا میا حقیقي کردار دَ افسانه نګار دَ روح نه ډېرې ژوندۍ او زړهٔ پورې جملې ځکه را ایستې دي چې دَ لفظونو شاته دَ جذبې اخلاص، د انسانیت مینه او دَ درد او کرب صداقت ولاړ دے. دَ لفظونو عکسونه ځکه ژوندي دي او په سترګو کښې ئې شوخي ځکه شته چې شاته جذبه ئې تانده ده. او دَ مصنف تخلیق کړے هر یو ټکے او هره جمله دَ یو حساسه انسان لکه دَ غشي اورې پورې ووځي. او بلها سوالونه راوچتوي. او په پس منظر کښې بلها جوابونه هم ورکوي. خو دَ اورېدو او لیدو دَ پاره ئې دَ زړهٔ سترګې او غوږونه پکار دي.

> "ننا میا افسانه زمونږ دَ ملک سیاسي لوړې ژورې په ګوته کوي. افسانه نګار پخپله هم یو سیاسي کردار پاتې شوے دے. "ننا میا" کښې ده دَ جېل یو پړق ښودلے دے. دې کردار چې مصنف څنګه متاثره کړے دے. په هغه تاثر وړاندې کولو کښې دے کامیابه شوے دے."[18]

ننا میا افسانه کښې دې کردار سره په ظاهره څوک په جنګ نهٔ دي. کردار خپله نظام سره

په جنګ دے. ځکه چې کله دَ لمبو نه راووت نو سوې لوې پښې په ازغو روان شۀ. دا افسانه دَ چار ګل په ښو افسانو کښې شمېرلے شي. حالانکې افسانه دَ متضاد کردارونو تنازغه او تسل نۀ لري. خو بیا هم پوهېدونکے پوهېږي. چې ننا میا چا سره او څۀ سره په جنګ دے. ننا میا افسانه کۀ ډېره هم ښۀ او ښکلې ده. خو په یو ځائے نیم پکښې ښاغلي زبېر حسرت صېب ګوته اېښودې ده.

" هغه بالکل زمونږ په ژبه نۀ پوهېدو. او مونږ هم ټول بندیان دَ هغۀ په ژبه نۀ پوهېدو. خو ولې بیا هم دغه خبره سر دوباره کوي. چې ننا میا په یوه سا ډېرې خبرې وکړې خو صرف دَ درګا لفظ ابلاغ وشي. چې دا ئې دَ پلار یا دَ ورور نامه ده. نو دا زما په خیال دَ افسانه نګار ذهني انتشار او تضادات دي چې کله خو هغه په نیم ټکي هم پوهېږي او کله په پوره جملو نۀ رسي. او دَ اشارو په ژبه ورسره خبرې کېږي."[19]

دا پورته ذکر شوے اقتباس چې ښاغلي زبېر حسرت صېب په ننا میا افسانه باندې دَ تنقید په شکل کښې کړے دے. دَ دې جواب ښاغلي شبر احمد خلیل " په چار ګل پرې پرې یو تنقیدي نظر" کښې کړے دے. دے لیکي:

> "دغه افسانه کښې کۀ دَ افسانه نګار په ځنو هغو الفاظو چې دَ افسانې دَ کردار په حقله کړي دي. دا اعتراض شوے دے چې هر کله دَ افسانه نګار دَ دغه وینا دَ هغۀ بالکل زمونږ په ژبه نۀ پوهېدو. او مونږ هم ټول بندیان دَ هغه په ژبه نۀ پوهېدو" په بنیاد چې ننا میا دَ افسانه نګار او افسانه نګار دَ ننا میا په ژپه نۀ پوهېدو. نو بیا دَ جبل دَ جمعدار په دا خبره چې دَ "ننا میا کی رهائی هے". څنګه پوئې شو؟

ورومبے خبره خو دا ده چې دغه لړ کښې دَ افسانه نګار پورته اقتباس کۀ په غور اولوستلے شي. نو دَ هغه د افسانه نګار او هلته دَ نورو پښتنو بندیانو دهغو خپله ژبه "پښتو" هم کېدے شي. او کۀ دغه خبره نۀ وي نو بیا دهرې ژبې ویونکے چې په یو ځائے دوه درې کاله تېر کړي. او بیا کوم ماحول کښې چې دَ "رهائی" لفظ هره ورځ په څو څو واره استعمالېږي. او عملاً مظاهره ئې کېږي. نو هلته کۀ څوک دَ هرې ژبې قېدي دَ رهائی په مفهوم نۀ پوهېږي نو زما په خیال کم نه کم دَ ذهني نعمت نه خو به محروم وي."[20]

بهر کیف هر څۀ چې دي خو افسانه دا ثابتوي چې که آمر ډېر لوئے او مضبوط وي. خو دهغۀ په لاشعور کښې دَ ننا میا په شان کردارونو نه یره او خوف موجود وي. ځکه چې کۀ دغه کردارونه په وجود کمزوري وي خو دَ دوي روحاني توان دَ هر آمر خوبونه حرام کړي دي. دلته ما ته دَ دغه دور یوه بله تاریخي واقعه رایادېږي. چې کله دَ ننا میا دَ زمانې آمر

دَ نوموړي باغي شاعر ساغر صدیقي خلاف دَ گرفتارۍ وارنټ جاري کړو او سر کاري اهلِ کار دَ هغهٔ دَ نیولو دَ پاره په هغه پسې لاړل. او دهغه تپوس ئې وکړو نو یو سړي ورته په مېن چوک کښې ناست یو بربند لغړ دوه هډوکي سړے په گوته کړو. وئیل چې دغه ساغر صدیقي دے. سرکاري اهلِ کار هغه کس ته ووې چې دا خو څوک لېونے پاگل او ملنگ دے. او زهٔ چې دَ کوم کس پوښتنه کوم. دَ هغه نه فیلډ مارشل ته خطره ده. خو سرکاري اهلِ کار څهٔ خبر وو. چې دغه دوه هډوکي نیم بربنډ شاعر دَ آمر خلاف داسې شعر وئیلے دے. کوم چې دَ هټلر او اناطولیه دَ یو بټالین فوځ نه هم زیات خطرناک دے.

*جس دور میں لٹ جائے غریبوں کی کمائی*
*اس دور کے سلطان سے کچھ بھول ہوئی ہے*

دَ حالاتو جبر او دَ انسانانو غېر انساني رویو دَ ننا میا نه تور کاڼے جوړ کړے دے. ځکه چې هغه یو سیاسي ورکر دے. او دَ انسانیت په خاطر دَ تورو تمبو شاته ناست دے. او حالاتو دَ لېونتوب اخري درجې ته رسؤلے دے. ځکه ئې رویه هم ډېره سخته او درشته ده. لکه چې مشهور مترقي شاعر ساحر لدهیانوي وائي:

*دنیا نے تجربات و حوادث کی شکل میں*
*جو کچھ مجھے دیا ہے وہ لوٹا رہا ہوں میں*

"هغه لکه دَ تبۍ تک تور وهٔ. دَ هغهٔ قد دَ پینځو لېښتو نه په مشکله لږ غوندې زیات وهٔ. هغه په تور تکي نه پوهېدهٔ. جاهل، نیم حبشي، دَ تهذیب په تندي تور داغ، په انسانیت خندا، په ژوند انگولا، په ملکي سیاسیت توره دانه، معصوم ننا میا، دَ مظلومیت ژوندۍ افسانه "[21]

"مینه" دَ چارگل پینځمه افسانه ده چې په رومانوي انداز کښې لیکلے شوې ده. دَ پښتنو دَ روایتي دښمنو او تربگنو غېږه کښې راټوکېدلې ده. په شمشو باندې تر بورانو کور وران کړے دے. دَ مفلسۍ، ناداری، او بې وسۍ له کبله ئې خپل ایکي یو زوئے او دوه لوڼه ځان سره اغستي دي. او په بل کلي کښې ئې دَ یوې بلې کونډې مېرمن جي کره پناه اغستې ده. مېرمن جي پخپله هم تور سرې ده. او دَ خپل ایکي یو ډکي واصل سره دَ کنډتون شپې ورځې تېروي. ځکه خو زمونږ افسانه نگار هم وائي:

"یوې کونډې بله دَ لاسه ونیوله. یو دَ بلې دَ غم داستان اورېدلو ته لېواله وه. او څهٔ وخت چې شمشو خپل دَ غم داستان ختم کړو نو مېرمن جي دَ خپلو اوښکو په ژبه شمشو سره دَ خپلو همدردو اظهار وکړو. دوه تور سرې دَ یو بل دَ ارمان دَ تکمیل په حسرت دَ یو سپین سبا منتظرې

شوي. شمشو دَ خېتې د غمه خلاصه شوه. دَ ژوند غرمو کښې مېرمن جي دَ هغې په سر سېورے شو."[22]

لکه څنګه چې دَ ښاغلي همېش خليل طريقه ده. په بيانيه انداز کښې دَ دواړو کونډ و دَ ژوند غم لړلے داستان په پخپله شاعرانه او استعاراتي ژبه باندې مخ په وړاندې بوځي. دَ ژوند په دغه سترې سترې سفر کښې يو داسې وخت هم راشي چې دواړه کونډې نيمزالې او بچي پېغلې ځوانان شي. شمشو غواړي چې خپله لور ملاله خپلو تربورانو له ورکړي. او خپل ځان په خپل کلي کښې مونډې کړي. بل خوا دَ مېرمن جي دا ارمان وي چې خپل ايکي يو ځوئي واصل له دَ خپل تربور لور وغواړي. او پخپل کلي وطن کښې دَ هغهٔ پښې مضبوطې کړي. په مېنځ کښې لانجه دا وشي چې ملاله او واصل يو بل له زړونه ورکړي. چې مېرمن جي دې نه خبر شي. نو ملاله ډېره په مينه او طريقه پوهه کړي. او لوظ ترې واخلي چې هغه به دَ واصل دَ ژوند نه بهر ووځي. ملاله هم دَ خپلې محسنې دَ احساناتو دَ بوج لاندې هغې سره لوظ وکړي. او بيا يوه ورځ داسې هم راشي چې دَ ملالې ډولۍ دَ ټوپکو په ډزو کښې دَ واصل دَ کور نه خپل کلي ته روانه شي. او مونږ ته خپل افسانه نګار دا خبر دارے راکړي.

"اوس هم کهٔ دَ کړهٔ مار په خاموشو کښې دَ يوسف او شبر بانو دَ مينې سندرې اورېدلے شي. نو دَ مهابڼ په ځنګل کښې هره ونه دَ پاڼو په ژبه دَ واصل او ملالې دناکامې مينې افسانه وائي."[23]

کهٔ مونږ دَ چار ګل دَ نورو افسانو په رڼا کښې دَ دې افسانې جاج واخلو نو دَ افسانه نګار اندازِ بيان هم هغه دے کوم چې دَ هغه په نورو افسانو کښې دے. خو په دې افسانه باندې دَ هغه دَ سياسي نظرياتو سېورے بېخي نشته.

"دَ چار ګل په افسانو کښې "مينه" يوه داسې افسانه ده چې په هغې کښې فن او مقصد تر اخره پورې ګوته نيولې روان وي او دا افسانه دَ ښاغلي همېش دَ افسانوي جينئس ثبوت وړاندې کوي. په "مينه" کښې دَ ملالې په کردار کښې دَ مينې او پښتو تر مېنځه کشمکش په ډېر سنګين او زړهٔ پورې انداز کښې ښودلے شوے دے. دَ فرض او پښتو په پښو کښې چې ملاله په کومه وياړلې طريقه دَ مينې لوغړنه جذبه ايرې کړي. هغه دَ يوې سيالې پښتنې دَ کردار ساهو عکاسي کوي."[24]

دا دَ پښتون کلتور په چوکاټ کښې ليکلے شوې يوه داسې رومانوي قصه ده چې پکښې مينه هم دَ روايتي دښمنو دَ لاسه لکه دَ منصور په دار شوې ده.

افسانه ډېره ښائسته پُر اثره او خوندوره ده خو په حقيقت کښې دَ افسانې سسپنس هغه وخت مات شي کله چې واصل دَ ملالې دخور مېمونۍ دَ خُلې نه په ټول حقيقت خبر شي. نو لوستونکے هم په

ټوله قیصه ورسي. دَ دې نه پس دواړه صفحې دَ افسانې په نازک وجود بوج دي.
"در اصل دې افسانې کښې دوه پلاټونه یو ځائې ځنګ په ځنګ روان دي. وړومبے پلاټ چې دَ واقعاتو په ترتیب زیات کوټلے کېدے شۀ او دا افسانه پرې تر انجامه په ښه طریقه رسېدے شوه. بېخي په نیمه کښې پرېښودے شوے دے. او بل بې ځایه او ناکامه پلاټ په مخه کړے شوے دے. او دَ ملالې او واصل دَ ناکامه مینې په شکست خورده انجام سر ته رسولے شوے دے. چې دَ دې افسانې له ټولو لوئے عیب دے."[25]
ویـنـه : دَ چارګل شپږمه طبعزاد افسانه ده. دا دَ خان ارسلا خان او غریبې کوچۍ دَ مینې داستان دے. وخت او حالاتو دواړه یو بل ته رانزدې کړي دي. او خان ارسلا خان په خانه بدوشې او سکانې ګل پاڼې باندې زړۀ بائیللے دے. ارسلا خان سره روپۍ ډېرې دي. دَ ګل پاڼې غریب پلار دَ احسانونو لاندې راولي. او هغه په دې مجبور کړي چې دَ خپلې لور لاس دَ هغۀ په لاس کښې ورکړي. خو کله چې دَ دې وادۀ نه دَ ارسلا خان پلار بلند خان خبر شي نو هغه دا اعلان وکړي چې کۀ زما زوئې خانه بدوشه ګلپاڼه پرې نۀ ښوده نو زۀ به دواړه وولم او دا به زما دَ سیاسي او سماجي ژوند مجبوري وي. دلته ارسلا خان هم دَ دوه ځلور میاشتې رومانوي دورې نه پس دَ ګلپاڼې نه زړۀ موړ شوے وي. دَ هغې په خېټه خپله نخښه پرېږدي. او دَ خپل خان پلار غېږې ته لاړ شي. یوه ورځ خانه بدوشه ګلپاڼه دَ خپله کوره پټ په پټۀ چرته داسې لور ته لاړه شي چې هیچا ته ئې پته اونۀ لګي. دَ ژوند ګاډے مخ په وړاندې روان وي. دَ سترګو په رپ کښې اتلس کاله تېر شي او یو ځل بیا یو عجیبه اتفاق وشي چې ارسلا خان سیاسي قېدي وي او دَ هغۀ سره زر ګل یو اخلاقي قېدي .
یوه ورځ یو سپاهي زرګل ډېر نا ترسه ووهي. او چې ارسلا خان دَ زر ګل سترګو ته وګوري نو هډو په ځان پوهه نۀ شي او زر ګل دَ سپاهي نه خلاص کړي. دَ دواړو تر مېنځه یو داسې مقناطیسي راښکون وجود ولري چې ارسلا خان ئې هډو اندازه نۀ شي کولے.
"وینه" دَ وینې ګرمي محسوس کړي. بیا دَ ارسلا خان دي دَ ګوند دَ مخالف ګوند سره خبره سمه شي او هغه دَ جېل نه بهر شي. زرګل هم خپل قېد پوره کړي. او دَ جېل نه ازاد شي. او چې ازاد شي نو خپلې مور ته دَ خان دَ مینې او شفقت قصه وکړي. او دا اراده هم څرګنده کړي چې زۀ دَ خان خوا ته ځم. هغه به راته څۀ کار روزګار راکړي. بیا به تا هم دَ ځان سره بوځم. دمور ئې زړۀ نۀ وي خو بیا هم خپل زلمي زوئې ته اجازت ورکړي. خو زر ګل چې کله دَ ارسلا خان دي کلي ته ورسي نو هلته ورته پته ولګي چې ارسلا خان چا نا معلومو سړو وویشتو. او هغه نبغ هسپتال ته لاړ شي. هلته ارسلا خان ته دَ وینې ضرورت وي. دَ زر ګل وینه ورسره سمون وخوري. او هغه ارسلا خان ته وینه ورکړي. بیا زر ګل دَ خان په وېنا خپله مور ځان سره راوغواړي. او دلته کښې

افسانه نګار قصه داسې راغونډه کړي.

"سربلند خان چې دا هر څۀ ولیده. نو ما داسې محسوس کړه لکه چې نن دَ صدو راسې په وړومبي ځل هغه دَ قدامت پسندۍ دَ تاریخ نه دَ وینې په حقله دَ خپلې رائې باب وشلولو."[26]

قصه خو په ډېره ښۀ طریقه باندې ختمه شي خو دَ لوستونکي په ذهن کښې دا سوال راولاړ شي چې دا "ما" پکښې څوک دے؟

دَ دې افسانې په حقله ښاغلے زبېر حسرت صېب هم لیکي:

> "دَ افسانې انجام ډېر ښۀ او مقصدي دے چې یو ضدي او روایتي پښتون، خان او پلار دَ "نوماداسې محسوسه کړه" جمله پکښې زما په خیال غېر ضروري او غېر فطري غوندې برېښي ځکه چې له دې وړاندې افسانه نګار بیانیه انداز کښې دَ واحد متکلم دَ صیغې لاندې چرته هم دَ زۀ، زما یا ما لفظونه نۀ دي استعمال کړي. افسانه نګار خپلو وړاندینو افسانو "ډیوه مړه شوه" ، "مور" او "چارګل" کښې هم دغه طریقه پکارولې ده. چې ښۀ نۀ برېښي. بهر حال دَ خپل کوټلي پلاټ، ژوندي کردارونو، خوږې شاعرانه ژبې او سپېڅلي اعلیٰ مقصد له رویه زما په خیال "وینه" دَ دې مجموعې له ټولو بهترینه او معیاري افسانه ده".[27]

په مجموعي توګه باندې "مینه" یوه ښه افسانه ده. لیکونکي دَ افسانې ټولې غوښتنې په ښۀ ډول پوره کړي دي. دَ افسانې کردارونه او واقعات دَ یو بل سره په منطقي توګه باندې تړلي دي . ضمني پلاټونه هم نه لري. خپل پلاټ ئې هم ښۀ کلک وودلے شوے دے. او قیصې هم دَ حقیقت پسندۍ یو ښۀ مثال وړاندې کوي. په طبقاتي سماج کښې دَ خانانو او سردارانو رویه دَ خانه بدوشو او مفلسو خلقو سره هم دغه شان وي. لکه څنګه چې دَ بلند خان او دَ هغۀ دَ ځوئي ده.

دَ زر ګل دَ خپل پلار سره په ډرامائي انداز کښې لیدل او بیا هغۀ سره راتلل او هغۀ ته په هسپتال کښې وینه روکول افسانه لږ شانې ډرامې ته ورته کړي. خو بهر حال په مجموعي توګه باندې که چرې دَ "ما" دا ټکے ترېنه وویستلے شي. نو افسانه ډېره ښۀ او په زړۀ پورې افسانه ده.

نو دلته خدائے بخښلي اعظم صېب هم دغه غېر فطري او ډرامائي انداز ته "فلمي انداز" وئیلے دے لکه.

" په وینه کښې دَ ګل پاڼې او ارسلا خان دواړو په کردارونو کښې دَ سترې کردار نګارۍ ګنجائش وو. خو دَ قیصې پلاټ چې په کوم غېر فطري او فلمي انداز کښې راټول شي. دَ

هغې دَ لاسه دَ يوې ښکلې افسانې ټوله اډانه راونړېږي."[28]

"پښېمانـي" دَ چار ګل اوومه افسانه ده. ګو چې ښاغلے همېش خليل په بنيادي توګه باندې يو حقيقت پسند او روايتي افسانه نګار دے. خو دَ هغه دا افسانه "نيم علامتي" بڼه لري. په افسانه کښې ستورے او دَ ستوري رڼا دَ اميد او کاميابۍ علامت دے. خو له بده مرغه دَ افسانې دَ نوم وروکي مرکزي کردار نه څۀ وخت پس دغه ستورے ورک شي. او هغه دَ دغه ستوري ليدو په ارمان دَ دنيا نه ارماني ارماني لاړ شي.

دَ افسانې په ابتداء کښې افسانه نګار وائي چې: "هغه دَ خپل ژوند دَ مايوسو په تور تيپو کښې دَ ببوسۍ غېر معمولي علامت وو. بالکل لکه دَ چا مصور دَ غم شاهکار"[29]

او افسانه چې مخ په وړاندې لاړه شي نو افسانه نګار مونږ ته وائي چې:

"لکه دَ هغۀ دَ تخيل په په تهه خانه کښے چې چرته ډيوه بله شوې وي. ستوري خپله رڼا نوره هم تېزه کړه او هغه دَ ستوري دَ ښائست په ننداره شو. هغه يو سوړ اسويلے وکړو. او بيا ئې سر په زنګون ننه ويستو. لکه دَ رڼا نه دا نا بلده چې دَ رڼا نه ترهېدلے وي. ولې ستوري دَ خپلې رڼا په خاموشه ژبه دَ هغه دَ خپلولو کوشش کولو. لکه ستورے چې هغه دَ شغلې په ژبه دَ خپل لازواله محبت پېغام ورکوي. پورته دَ آسمان ستورے او لاندې دَ زمکې ستورے رپېدو."[30]

دا يوه نيم علامتي افسانه ده. چې دَ ستوري او رڼا نۀ پکښې دَ کاميابۍ او اميد کار اغستے شوے دے. خو دَ بده مرغه مرکزي کردار پکښې نوم نۀ لري. او دَ صيغه واحد غائب په صورت کښې په افسانه کښې موجود دے. دلته کۀ افسانه نګار په خپله په دې افسانه کښې دَ صيغه واحد متکلم په صورت کښې موجود وے. نو زما په خيال ډېره مزه به ئې کړې وه.

" پښېمانه په چارګل کښې دَ همېش صيب اوومه طبع زاد افسانه ده. چې دَ افسانې يقين پرې کم او دَ يو تاثراتي مضمون يا لطيف ادب ګمان پرې زيات کيږي. خو هر کله چې دې کښې هم زمونږ ليکونکي پخپل مخصوص شاعرانه انداز دَ خپل فکر و نظر کوم اظهار کړے دے. هغه علامتي هم دے او تاثراتي هم."[31]

په دې افسانه کښې چې کوم ستوري (دَ زمکې او اسمان ) دَ اميد او دَ ژوند علامت ښودلي شوي دي. ښاغلي زبېر حسرت صيب دَ افسانې په فن او تکنيک خبره کړې ده. ځکه خو ئې ورته ادبِ لطيف يا تاثراتي مضمون وئيلے دے. هر څه چې دي خو افسانه يو ډېر عالي مقصد لري. او ښاغلي شېر احمد خليل ورته ادبي شهپاره وئيلې ده.

"دغه ادبي شهپاره کښې څوک انسان دَ خپل کوم مقصد او منزل په تلاش دَ خپل ژوند په

لویه لار دَ ډېرو نا قابل برداشت ازمائشونو سره دَ مخ کېدلو باوجود دَ خپل ژوند دَ وروستیو وختونو پورې په شکست یقین نه لري. دا منزل او مقصد سیاسي هم کېدلے شي او دَ حقیقت تلاش هم کېدلے شي. ستورے یو علامت دے. په دغو دواړو لارو دَ مسافر دَ پاره په خپل مقصد کښې دَ کامیابۍ."[32]

زما په خیال په پښتو ادب کښې او خصوصاً په افسانه کښې علامت نګاري هم دَ مارشل لاء دَ دور پېداوار دے چې دې سره ځنې لیکوال اختلاف هم لري. او دا افسانې هم دَ هغه دور پېداوار دي چې په قېدو بند کښې لیکلے شوي دي. هر کله چې په لیک باندې پابندي ولګي. نو بیا یو لیکونکے دَ خپل مقصد او مدعا بیانولو دَ پاره دَ علامتونو ژبه خپله کړي او محترم همېش صېب ورته دومره رنګین، شائسته او شاعرانه ژبه ورکړې ده چې لوستونکي ته خوند او مزه ورکوي.

" دَ همېش خلیل دَ افسانو سټائل شاعرانه دے. او بیا دَ ښائسته تشبیهاتو او علامتونو په مدد ئې دَ افسانو ساختیائي اړخ هم ښکلے کړے دے. ولې دَ موضوع په لحاظ همېش صېب دومره حقیقت پسند، دَ غریبو او نادارو ملګرے او سرمایه دارانه نظام خلاف دے. چې دَ افسانې تشبیهاتي رنګ کښې هم خپل پېغام داسې پېش کوي چې دَ سرمایه دارو او نادار دَ کشمکش څرګندونه ترې وشي."[33]

علامتي افسانه پښتو ته ډېره وروستو راغلې ده خو ښاغلے همېش خلیل دَ داد وړ دے چې دَ نن نه نیمه پېړۍ اګاهو ئې دومره دَ جدید طرز افسانه لیکلې ده.

افسانه کۀ هر څو هاغه هومره فني چابکدستي او اثر نۀ لري. کوم چې دَ یوې افسانې خاصیت وي. ولې بیا هم چې کله مونږ دا افسانه په هغه زمانه کښې کېږدو. او دَ دې وخت نه پرې رڼا اچوو. نو زمونږ دَ خولې بې اختیاره دَ شاباسي ټکے ووځي. او دلته دَ خدائے بخښلي افضل رضا صېب دا خبره هم غلطه ثابته شي چې:

> " دَ جدیدیت په نامه بې ځایه علامت نګارۍ او نام نهاد دَ تجریدیت تجربه کولے شي. او دَ اصلي افسانې وجود ته دَ خطرې سامان پېدا کولے شي. خو شکر دے چې پښتو افسانه لا دَ دې وبا نه محفوظه ده."[34]

"یو حقیقت یو افسانه" دَ چارګل اتمه او د ښاغلي همېش صېب اوومه طبعزاد افسانه ده. لکه څنګه چې دَ دې افسانې دَ نوم نه هم څرګنده ده چې یوه حقیقي واقعه او کردار ئې په افسانوي ژبه او رنګ کښې پېش کړے دے. په دې افسانه کښې دَ خدائي خدمتګارو دوو ورونړو کامدار خان او نامدار خان څوک چې دَ صوابۍ دَ کالو خان کلي سره تعلق لري. هغوئ سره چې دَ لندن او دَ دې ځائے دیسي انګرېزانو کومې

چارې کړې دي. هغې دَ بیانولو کوشش پکښې شوے دے.
دا دَ چار ګل یوه ډېره اثرناکه، دردناکه، المناکه او تاریخي افسانه ده کومه چې ښاغلي همېش خلیل دَ خپل کاروان په یو ډېر نر ملګري نامدار خان باندې لیکلې ده.
نامدار خان نه مخکښې دَ هغهٔ ورور کامدار خان باندې د پښتون قام دښمنانو ظلمے جوړ کړے وي. او چې کله وطن ازاد شي او دَ بده مرغه دَ ازادۍ ایجنډه نیمګړې پاتې شي په وطن کښې پرېوتو اولسونو ته خپل حقونه ور نهٔ کړے شي. ځو کسان دَ اکثریت په حقونو خېټه واچوي. نو خدائي خدمتګار دَ یو بل جدوجهد اغاز وکړي. کامدار خان کهٔ دَ ازادۍ په جنګ کښې خپل ځان بائیللے وي نو دَ هغهٔ نر ورور دَ انساني حقونو په جنګ کښې خپله ځواني بائیلي. او چې کله افسانه دې ځائے ته را ورسي.

"دَ وودي اسمان په ستورو ښائسته وودي پرده بدلیده رابدلېده. دَ باد مخالفې چپې تلې راتلې. او یوه شپه چې ماحول غربو نیولے وو او دنیا دَ تېرو په پرده کښې خوب په میئو بې خوده پرته وه. ناساپه دَ یو مور دَ درد ډېدلي زړهٔ په ناګهانه کړیکه را وپارېده او چې د کلي خلقو غوږونه کېښول نو پرېشانه باد په تته ژبه لګیا وو او د نامدار خان جنازه دَ ډېرو له زندانه راورسېده."[35]

دا افسانه هم یوه بیانیه افسانه ده. دَ مکالمې کمے خو پکښې محسوسېږي. خو دَ جذبې شدت، ادیبانه اخلاص او جرات اظهار دغه کمے پوره کړے دے. او شاید دَ دې وجه دا وي چې افسانه نګار پخپله دَ دغه کاروان برخه دے. خبره دَ زړهٔ نه راوتې ده نو په زړهٔ کښې لار هم کوي.
" وطن دَ ازادۍ نه پس په دا قسمه موضوعاتو دا افسانه دَ میر مهدي شاه مهدي باچا (مرحوم) دَ افسانو یاد تازه کوي."[36]
دا افسانه یوه داسې قصه ده چې دَ اودهٔ قام دَ رابېدارولو هڅه هم کوي. او دَ خپل تاریخي جدوجهد دَ تاریخ سازه اتلانو نه ئې هم خبر وي. ځوک چې دَ خپل قام په ننګ ولاړ وو او په دغه جنګ کښې هم دَ سره تېر وو هم دَ ماله.
" اخري سبق" افسانه دَ چار ګل نهمه او اخري افسانه ده. دَ دې افسانې په حقله مصنف پخپله وائي.
"اخري سبق چې دَ دغه مجموعې اخري افسانه ده. دَ فرانس دَ مشهور ادیب ښاغلي الفانسے ډوډے دَ یوې افسانې ترجمه ده."[37]
او محترم اسیر منګل صیب هم لیکلي دي چې:

"دَ چار ګل اخري افسانه "اخري سبق " دَ فرانس مشهور افسانه نګار

الفانسے ډوډے دَ یوې نمائنده افسانې ترجمه ده په دې کښې دَ فرانس دَ هغه سیاسي حالاتو تذکره شوې ده چې کله جرمنیانو دَ فرانس فتح کولو نه پس ته دا حکم جاري کړے وو. چې نور به په سکولونو کښې فرانسیسي نۀ شي ښودلے."[38]

افسانه دَ یو طالب علم په خُلۀ باندې شروع کیږي کله چې په نړیوال جنګ کښې جرمني په فرانس حاوي شۀ هم ئې فرانس غلام کړو. هم ئې دَ هغوي دَ خُلو نه دَ ژبې را تروړلو هڅه وکړه. په دې افسانه کښې استاذ موسیو مېمل دَ خپلې مدرسې دغه طالب علم فریتو نه چې دَ افسانې وېنا وال دے تۀ وائې.

"فریتو ! زۀ نن تا ته هیڅ نۀ وایم. ځکه چې په دغه اخري سبق تۀ خفه نۀ شې. خو ګوره تۀ هر وخت خپل زړۀ کښې وائې، چې سبق یادولو ته لا ډېر وخت دے. ولې تۀ خبر ئې. چې هم نن دَ دې خیال څۀ نتیجه ووته؟ آه.....د انسانانو ټولو نه لویه بدبختي هم دغه ده چې هغه دَ نن کار په سبا پرېږدي. او دښمنان به اوس څۀ وائي چې دغه خلق خپلو ځانونو ته خو فرانسیان وائي. ولې نۀ ورله فرانسیسي لیکل ورځي او نۀ لوستل."[39]

موسیو مېمل چې دَ فرانس په سکول کښې استاد وو. دا قوم پرست دَ خپلې ژبې ډېر شېدائي وو. دَ هغه وخت چې کله جرمن، فرانس قبضه کړو. دغه حالات او دَ خپل قام او ژبې سره انتهائي مینه او شدت پکښې دَ فرانس لیکوال الفانسے ډوډے دَ استاد په خُلۀ بیان کړے دے. ښاغلے زبېر حسرت صیب هم لیکي چې:

" اخري سبق دَ چار ګل وورستیې او ترجمه شوې افسانه ده. چې خالق ئې دَ فرانس الفانسے ډوډے دے. چې دَ خپل وطن، قام او ژبې سره دَ انتهائي مینې دَ جذبې شدت پکښې په غورځنګونو دے. دا افسانه اوس اوس ښاغلي م. ر شفق هم ترجمه کړې ده. چې په افسانوي مجموعه " سپوږمۍ" (جنوري ۲۰۰۰ء) کښې ئې دَ چار ګل غوندې اخر ته چاپ کړې ده. "[40]

دَ افسانې په اخره کښې استاذ په کلاس کښې ناستو شاګردانو او ځنې مشرانو ته مخاطب شي. هغه دَ څۀ وئیلو کوشش کوي. خو دَ هغه مرۍ کښې خبره دَ ډېر خفګان له وجې ونښلي. خو په اخره کښې چې هغه څۀ ونۀ وئیلے شي. نو په ډېرو غټو ټکو کښې په تخته سیاه باندې صرف دومره قدرې اولیکې. چې " فرانس زنده باد" او بیا نور دَ هغه دَ ودرېدلو توان هم پاتې نشي. او اشاره اشاره کښې ووائي چې دَ هغې مطلب دا وي "سکول بند شو. تاسو تلے شي"

دا افسانه دَ غلامۍ خلاف او دَ ژبې دَ حق دَ پاره دَ مبارزې يو علامت دے. شايد ښاغلي مصنف په دې وجه ترجمه کړې وي. چې دا افسانه دَ هغه دَ خوبونو او ادرشونو هېنداره وي. هغه هم دَ خپل قام دَ ازادۍ او دَ خپلې ژبې دَ ابادۍ دَ پاره هم خپل ټول ژوند وقف کړے دے.

فرانسيسے قوم يو ډېر قام پرست او پخپله ژبه ډېرمئين قام دے. تاريخ دا هم وائي چې فرانسيسي پوهانو " "دَ انتے "او "بولو" خپل قام دَ نورو ژبو دَ غلامۍ نه راويستے دے. او دا دَ فرانس انقلاب وو چې دَ دنيا دَ ژبو لار او لورے ئې بدل کړو. دَ فرانس دَ انقلاب نه پس ادب دَ دربار نه راووتو، او دا ځکه چې اولس حاکم شو. او حاکم محکوم. او دَ دنيا دَ ادبياتو ټوله بيانيه بدله شوه. دا افسانه ګو چې په داسې وخت کښې ليکلے شوې ده. چې فرانسيسيانو ماتې خوړلې ده. خو دنيا ليدلي دي چې ډېر زر هغوي يو ځل بيا مېدان وګټلو او بريالي شو.

دَ بلې ژبې تخليقي مواد خپلې ژبې ته را اړول ډېر ګران کار دے. اکثر په داسې حالاتو کښې تخليق خپل ځان وبايېلي. خو ښاغلي همېش خليل دا افسانه په داسې طريقه خپلې ژبې ته را اړولې ده. چې دَ بنده پرې دَ ژباړې ګمان نۀ کېږي. لوستونکے داسې محسوسوي چې دا دَ مصنف خپل طبع زاد ليک وي او وجه ئې دا ده چې يو خوا دَ همېش صېب پخپله ژبه باندې عبور دے او بل خوا ئې په افسانه ليکلو لاس بر دے. ځکه ئې دَ پښتو جولۍ ته دومره ښکلې افسانه سپارلې ده.

او زما دَ دې خبرې ثبوت دَ خپل دور دَ سپېځلي شاعر، ډرامه نګار، محقق او نقاد ډاکټر محمد اعظم صېب دا رائې ده.

"چارګل په افسانو کښې دَ ټولو نه لويه خوبي دَ ژبې او بيان ښکلا ده. په نثر کښې به دومره رنګينه او شاعرانه منظر کشي په ډېرو کمو ليکونو کښې راغلې وي."[41]

نتيجه: پۀ دې ريسرچ پېپر کښې ما تر خپله وسه پوره هڅه کړې ده چې دچارګل کتاب پۀ ټولو افسانومې ځان ځان ته د ليک کوشش کړے دے اود هرې افسانې مې ترخپله وسه ښۀ Treatment کړے دے. پۀ دې افسانوکۀ نور چا د ليک کوشش کړے دے هغه مې سره دحوالوتر نظره ساتلي دي. او دکتاب خوبۍ او کمزورۍ مې رابرڅېره کړي دي.

## حوالې او حاشيې

[1] خليل، شبر احمد، هر بلبل په دې ثناء کا کۀ تۀ ګل شې، پېښور، جدون پرنټنګ پريس، جنوري ۲۰۰۸ء، مخ ۹۹

[2] همدغه ماخذ، مخ ۱۰۴

3 همېش خلیل، چارګل، منظورِ عام پرېس پېښور، فروري ۱۹۷۳ء،مخ ۱۳
4 همدغه ماخذ، مخ ۱۱ – ۱۲.
5 همدغه ماخذ، مخ ۱۷
6 اعظم، محمد اعظم، پښتو افسانه تحقیق او تنقید، چاپ ځائے نۀ لري،پېښور، جولائي ۱۹۷۲ء، مخ ۳۸.
7 چارګل، مخ ۱۹ - ۲۰
8 هر بلبل په دې ثناء کا کۀ تۀ ګل شې، مخ ۱۰۵ – ۱۰۶
9 همدغه ماخذ، مخ ۱۷۱ – ۱۷۲.
10 همدغه ماخذ، مخ ۱۷۸
11 چارګل، مخ ۲۹
12 اعظم، محمد اعظم، پښتو ادب کښې کردار نګاري، ملت پرنټرز لاهور، چاپ اول ځل، ۱۹۹۳ء، مخ ۲۷۳.
13 هر بلبل په دې ثناء کا کۀ تۀ ګل شې، مخ ۱۸۲.
14 اسیرمنګل، د پښتو افسانې سل کلن بهیر،دانش خپرندویه ټولنه پېښور، اکتوبر ۲۰۱۳، مخ ۱۰۱
15 هر بلبل په دې ثناء کا کۀ تۀ ګل شې، مخ ۱۵۱
16 هر بلبل په دې ثناء کا کۀ تۀ ګل شې، مخ ۱۸۳.
17 همدغه ماخذ، مخ ۱۸۲
18 د پښتو افسانې سل کلن بهیر، مخ ۱۰۰
19 هر بلبل په دې ثناء کا کۀ تۀ ګل شې، مخ ۱۸۶.
20 همدغه ماخذ، مخ ۲۱۱ - ۲۱۲
21 چارګل، مخ ۴۷
22 همدغه ماخذ، مخ ۶۳
23 همدغه ماخذ، مخ ۷۳
24 پښتو ادب کښې کردار نګاري، چاپ اول ځل، ۱۹۹۳ء، مخ ۲۷۵ - ۲۷۶.
25 هر بلبل په دې ثناء کا کۀ تۀ ګل شې، مخ ۱۸۹.
26 چارګل، مخ ۹۰
27 هر بلبل په دې ثناء کا کۀ تۀ ګل شې، مخ ۱۹۵.
28 پښتو ادب کښې کردار نګاري، چاپ اول ځل، ۱۹۹۳ء، مخ ۲۷۶.
29 چارګل، مخ ۹۱
30 همدغه ماخذ، مخ ۹۱ - ۹۲
31 هر بلبل په دې ثناء کا کۀ تۀ ګل شې، مخ ۱۹۵.
32 همدغه ماخذ، مخ ۲۱۵.
33 حنیف خلیل، همېش خلیل ژوند او فن، شرکت پرنټنګ پرېس لاهور، اپرېل ۱۹۹۷ء، مخ ۲۲
34 افضل رضا، پروفېسر، افسانه تحقیق، تنقید او فن، جواد پرنټنګ پرېس پېښور، ۱۹۸۵ء، مخ ۳۷.
35 چارګل، مخ ۱۰۲
36 هر بلبل په دې ثناء کا کۀ تۀ ګل شې، مخ ۲۰۰.

[37] چارګل، مخ ۸

[38] هر بلبل په دې ثناء کا کۀ تۀ ګل شې، مخ ۱۰۴.

[39] چارګل، مخ ۱۰۹

[40] هر بلبل په دې ثناء کا کۀ تۀ ګل شې، مخ ۲۰۰

[41] اعظم، محمد اعظم، پښتو افسانه تحقیق او تنقید، چاپ ځائے نۀ لري، پېښور، جولائي ۱۹۷۲ء، مخ ۱۵۹.